**بسم الله الرحمن الرحيم**

# خبر او تبصره

## اردوغان: د چین مسلمانانو لپاره د ستونزو د حل لارې امکان شته

### خبر:

د ترکیې د بهرنیو چارو وزارت د ایغور د مسلمانانو پر وړاندې د بیجینګ چلند د بشریت لپاره لوی شرم وباله.

د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان وویل چې په چینایي کمپونو کې مسلمانانو سره د مرستې لپاره یوه داسې حل لاره موندل کېدای شي چې د دواړو خواو حساسیتونه په پام کې ونیول شي؛ دغه خبره پنجشنبه خپره شوې. ترکیه یو له هغو لویو اسلامي هېوادونو څخه ده چې پر چین یې د ایغور د کابو یو میلیون او د سینګیانګ په سیمه کې د نورو مسلمانو اقلیتونو په نیولو نیوکه کړې.

خو د اردوغان خبرې وروسته له هغې نرمې شوې چې په بیجینګ کې یې د چین له ولسمشر، شي جین پینګ سره وکتل؛ « زه باور لرم چې موږ دغې موضوع ته داسې حللاره پیدا کوی شو چې د دواړو خواوو حساسیتونه پکې په پام کې ونیول شي.» د حریت ورځپاڼې په خبره اردوغان دا خبره ترکیې ته له بېرته تګ وړاندې په بیجینګ کې ترکي خبریالانو ته وکړه.

بیجینګ له تېرو لسو کلو په سینګیانګ کې یو سرکوب کوونکی کمپاین پیل کړی چې له چړو وهلو او نژادي شورشونو سره مل و. چین په هغه څه کې چې دوی یې « د حرفه‌یي زده‌کړو مرکزونه» بولي خلک خپلې خوښې ته نه پرېږدي او موخه یې دا ده چې دوی له «مذهبي افراطیت» نه لرې وساتي.

د ترکيې د بهرنيو چارو وزارت د ايغور د مسلمانانو پر وړاندې د بيجينګ چلند «د بشريت لپاره لوی شرم» وباله او ويې ويل چې په دغو مرکزو کې ساتل شوي او زنداني کسان « شکنجه کېږي او له سياسي اړخه يې مغزونه وينځل کېږي.» (Aljazeera.com)

## تبصره:

د ۱۹۲۴ کال د جولای په ۲۴ مه د انګلستان د هغه وخت د بهرنيو چارو وزير لارډ کورزان د انګلستان د عوامو مجلس ته وويل: « ترکيه (د خلافت مرکز) مړه شوې او بيا به هېڅکله راپورته نه شي، ځکه چې موږ د دوی معنوي ځواک؛ خلافت او اسلام له منځه يوړل.»

د ترکيې کمزورې هڅې موږ ته دا جوتوي چې ترکيه د ايغورستان د مسلمانانو د هوسا ژوند په پرتله له چين سره خپلو اقتصادي اړيکو ته ډېر ارزښت ورکوي. دلته زموږ د مشرانو چوپتيا ښکاره ده؛ هغه مشران چې د ټرمپ پښو ته په لوېدو کې خوشاله دي، د امت د شتمنۍ بيليونونه ډالر مصرفوي، په سوريه، يمن او ليبيا کې له يو بله سره جګړه کوي او يو بل وژني. دغه غلامان زموږ شتمنۍ د غرب په لاسو جوړو وسلو باندې بې ځايه لګوي، په دې توګه موږ د دوی غلامان کوي او غرب ته د دې وړتيا ورکوي چې زموږ شتمنيو ته ډېر لاسرسی ولري.

ترکيه هم د نورو په شان د رسول الله صلي الله عليه وسلم له لارې کږه شوې او د کفر او طاغوت پر قدم، قدم ږدي.  موږ د جاهليت پر اساس وېشل شوي يو او امت راته بېګانه ښکاري، له تکتيکي او ضمني ځواب پرته د ستونزو لپاره ريښتينې او اوږدمهاله حللاره نه لرو، هغه ستونزه که په ايغورستان کې وي که د نړۍ په بل ځای کې. ترکيه خپل ځان د غرب له عمدي ويرانکاريو څخه نه شي ژغورلی. دوی د غرب له خوا په جوړ شوي د عنکبوت کور کې بند پاتې دي،  ايډيالوژيک او عقلاني ځواب نه شي ورکوی خو بيا هم لا لګيا دي د خپلو اقتصادي، سياسي او ټولنيزو ستونزو حل له هغه غرب نه غواړي چې دوی يې په دغه دام کې اچولي.

موږ د چين په اړه د هغه څه له مخې بحث کوو چې په خبرونو کې يې اورو او دا هغه څه دي چې امريکا غواړي موږ يې په دغه وخت کې ووينو. زموږ خواشينوونکی واقعيت دا دی چې په ټوله نړۍ

کې مسلمانان ځورول کېږي او غرب زموږ په هیوادونو کې په پر له پسې  توګه له مالیزیا نه تر سوډان، مصر، فلسطین او ایران پورې لاسوهنه او مداخله کوي. زموږ مشران غرب ته سجدې کوي او د هغوی بشري او طاغوتي نظام او قوانین پر موږ پلی کوي. دا د حیرانتیا ځای نه ده چې موږ وروسته له څو لسیزو ازادۍ نه د تل لپاره وویشل شوو او تر اوسه پورې د استعماري قدرتونو غلامان یو، ددې توان او قدرت نه لرو چې بیرته سره یو ځای شو، پر پښو ولاړ شو، پر مختګ وکړو او هغو ته قوي ځواب ورکړو چې پر موږ حملې کوي، وژني مو او نه مو پرېږدي چې ریښتینې ازادي ولرو.

په یوویشتمه میلادي پېړۍ کې له اسلامي امت سره وحشت وش، غلام کړای شو او ووېشل شو.

ستراتېژیک ځواب تر هغه شونی نه دی چې تر څو یو ثابت جوړښت نه وي چې اسلامي دولت ولري، هغه دولت چې د اسلامي امت د ځورولو او پر دوی د ظلم مخه ونیسي همداراز ټول بشریت د غرب له استثمار نه وژغوري. رسول الله صلي الله علیه وسلم دا خبره ښه روښانه کړې چې زموږ ژغورنه د امیرالمومنین تر شا په دربدو کې ده. ابو هریره رضي الله تعالی عنه روایت کوي چې رسول الله ص فرمایي:

**«إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ فَإِنْ أَمَرَ بِتَقْوَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَعَدَلَ كَانَ لَهُ بِذَلِكَ أَجْرٌ وَإِنْ يَأْمُرْ بِغَيْرِهِ كَانَ عَلَيْهِ مِنْهُ»**

***ژباړه***: *امام هغه ډال دی چې له امره یې باید اطاعت وشي چې هغوی (مسلمانان) کله باید جهاد وکړي او له چا ملاتړ وغواړي. که تقوا ته بلنه وکړي او عدالت پر ځای کړي، نو الله سبحانه و تعالی به اجر ورکړي، او که بل څه ته بلنه وکړي پر هغه به (د ګناه) بار وي.*

موږ یوازې دا نه غواړو چې له هغو کسانو چې موږ ځوروي وژغورل شو او له هغو خپل حق واخلو، بلکې موږ د الله سبحانه و تعالی رضایت غواړ، هغه سبحانه و تعالی دا روښانه کړې چې مومنان باید یوازې د اسلام تر حاکمیت لاندې ژوند وکړي، د اشغالګرو تر قوانینو لاندې نه!

﴿وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَا أَنزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ﴾

*[۵:۴۹]*

***ژباړه:*** *«نو اې (محمد صلی الله علیه وسلم)! ته د الله له نازل کړي قانون سره سم د دې خلکو د چارو فیصله وکړه، د هغوی خواهشاتو پیروي مه کوه، پام کوه چې دا خلک تا په فتنه کې وانه چوي، یوه ذره دې هم له هغه هدایت څخه وا نه ړوي چې خدای تاته درلېږلی دی... »*

**لیکوال: محمد حمزه**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**